# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

چانګ چيه چنګ
ژباړه: فرهاد وياړ
۲۵ فبروری ۲۰۱۷

## نورمن بسيون په چين کې

## (۷)



ملګري بسيون، قوماندان **هه سو** او نور ملګري چې په سخته ټپيان شوي وو، روغتون ته وليږدول. بسيون به کله يو او کله به بل ټپي ته چې پر روان کټ روغتون ته ليږدول کيدل تلو او د هغوی د حال پوښتنه به يې کوله. کله به يې چې واوريدل چې ټپيان ښه دي، نو ويل به يې:«کله چې اورم چې ښه ياستي، نو کومه انديښنه راته نه پاتی کيږي.»



د جبهې شاته روغتون کې ډاکټر بسيون قوماندان **هه سو** په کټ څملاوه او شا يې ورته يو څه جګه کړه. هغه نورو ډاکټرانو ته وويل:«کله چې يو څوک د خيټې په برخه کې ټپي وي، ساه ايستل ورته ستونزمن کيږي؛ دا ډول، به د لا زياتې آرامتيا احساس وکړي.»



ملګري بسيون هره ورځ د قوماندان **هه سو** لپاره څلور وخته ډوډۍ چمتو کوله. کله چې پخلونکي له هغه وغوښتل چې ډوډۍ به په خپله چمتو کړي، بسيون وويل:«فکر کوم ښه به دا وي چې دا کار په خپله وکړم، ځکه د خپل ناروغ په اړتيا ښه پوهيږم. مناسبه ډوډۍ روغتيا ګړندۍ کوي.»



کله چې ډوډۍ چمتو شوه، ډاکټر بسيون، په خپله، د ناروغ ډوډۍ هغه ته ورکوله. بسيون، قوماندان ته وويل:«يوه مړی بله وخوره، کله چې بشپړه روغتيا وموندې بيا هغه وخت کولای شئ د دښمن ډير زيات سرتيري نابود کړئ.» قوماندان هه سو چې د ډاکټر بسيون د مهربانۍ په وړاندې د مننې لپاره کلمه پيدا کولای نشوه، اوښکي يې توی شوی.



د بشپړ روغتیا وروسته، قوماندان **هه سو** چمتو شو چي د خپل خدمت سیمي ته ستون شي. په داسي حال کي چي په سترګو کي اوښکو راټولی شوی وی، وې ویل:«ډاکټر بسیونه! زه جبهي ته ځم چي د دښمن ډیر سرتیري ووژنم.»



یوه ورځ یې داسي یو ټپي روغتون ته راوستو چي باید د بدن یو غړی یې غوڅ شوی وی. ټپي د ویني د اخیستلو لپاره زیاته اړتیا لرله. ټولو ملګرو د ویني د ورکړی لپاره خپله خوښي څرګنده کړه.



ملګري بسیون خپل سر د مخالفت په توګه وخوزو او وی ویل:«تاسو همدا څو ورځي مخکي وینه ورکړه، دا ځل زما وار دی. زما د ویني ډول مثبت دی او د هر ناروغ لپاره برابره ده.» کله چي هغه خپل لستونی د ویني د ورکولو لپاره راپورته کړ، ملګرو په مخالفت کي وویل:«خپل عمر ته خو دي پام وکړه.... دا کار ستا لپاره مناسب نه دی.» ملګري بسیون ځواب ورکړ:«زمونږ ملګري چمتو دي چي په جبهه کي خپله ټوله وینه ورکړي، زما هم باید د خپلي ویني یوه برخه ورکړم.»



ملګری بسیون د ټپي تر څنګ څملاست او وې ویل:«ژر وکړئ، د ټپي د ژغورني لپاره ډیر وخت نلرو.» نو، په دې ډول د یو انترناسیونالیست پرولتري جنګیالي، د کانادا د ولس د ګران زوي وینه، د ملګري نورمن بسیون وینه د یوه چیني جنګیالي په بدن کې روانه شوه او هغه یې له مرګ څخه وژغورو.




دا خبره چې ملګري بسیون یوه چیني جنګیالي ته خپله وینه ورکړی، په ټوله سیمه کې خوله په خوله شوه. ډیر ژر د وینې د ورکړې یوه رضا کاره ډله جوړه شوه. ملګري بسیون چې ډیر زیات تر اغیزې لاندې راغلی و، وی ویل:«پرګنې زمونږ د وینې بانک دی. دا د جراحی په تاریخ کې یو ناپیژندل شوی چاره ده.»



د اپریل په وروستیو کې، ملګری بسیون خبر شو چې د **سوکانګ** کلي په یوه پټنځای کې د دښمن لیکې ته نژدې د ټپي سرتیرو یوه ډله ده. ملګری بسیون داوطلب شو چې هلته لاړ شي او هغوی سره مرسته وکړي. خو، څنګه چې دا یو خطرناک سفر و، نو رهبري هڅه وکړه هغه له دې کار څخه وګرځوي، خو بسیون په هیڅ ډول خپل فکر بدل نکړ. نو پریکړه وشوه چې روغتیایي ډله د شپې په تیاره کې حرکت وکړي.